**<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>**

## له غزې څخه د ملاتړ په تور د «فتحي عروس» نیول

## (ژباړه)

د ۲۰۲۴م کال، د جنوري په ۹مه، یوه امنیتي ګروپ وروسته له هغې زموږ ورور، فتحي عروس د تونس په قرقنة جزیره کې له خپل کور څخه ونیو، چې په همدې ورځ یې په العطایا سیمه کې د جومات مخې ته د غزې او د غزې د خلکو د ملاتړ د اړتیا په اړه وینا کوله!!

په دې اړه د حزب التحریر ـ ولایه تونس مطبوعاتي دفتر اعلانوي چې:

۱. حزب التحریر د امنیتي ادارو له لوري د خپلو غړو پرله پسې نیول غندي او دا د چارواکو لپاره شرم ګڼي.

ایا د غزې د ملاتړ لپاره غږ پورته کول؛ د الله سبحانه وتعالی د کلام یادول؛ له یهودانو سره د جګړې او د نړۍ د سترګو او غوږونو پر وړاندې د تباه کېدونکو مسلمانانو د ملاتړ لپاره د شرعي مسولیت یادول او د مسلمانانو د حکامو خیانت افشا کول جرم دی چې دا رژیم دعوتګر مومنان پرې نیسي؟

تونسي چارواکي ادعا کوي چې د غزې له خلکو سره درېږي؛ خو د حزب التحریر د غړو - چې په لوړ غږ حق بیانوي او پر پوځونو غږ کوي چې په فلسطین کې د وینو تویولو مخه ونیسي- نیولو ته دوام ورکوي.

۲. حزب د فتحي عروس د ژر تر ژره خوشي کېدو او په قرقنة کې د حزب التحریر د غړو د هر ډول ځورونې د پای ته رسولو غوښتنه کوي چې د اسلام او مسلمانانو په ګټه خپل کار ته دوام ورکړي.

۳. د حزب التحریر د غړو نیول به دوی له هغې دندې را ونه ګرځوي چې الله سبحانه و تعالی شرف پرې ورکړی؛ دوی به خپل دعوت او د غزې د خلکو د ملاتړ لپاره د امت له لښکرو څخه د ملاتړ غوښتنې ته په شدت دوام ورکوي. د ظلم کچه که هر څو ډېره شي، دا دعوتګر د الله سبحانه وتعالی په اراده او قوت سره د فکري او سیاسي مبارزې له لارې د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر منهج د راشده خلافت د تاسیس لپاره لکه غرونه کلک ولاړ دي.

څوک چې د حق د لارې دغو دعوتګرو سره اختلاف کوي، دوی ته زیان نه شي رسولی؛ ځکه دا د الله سبحانه وتعالی امر دی او د هغه سبحانه وتعالی اطاعت واجب دی. د دغه رژیم لپاره ډېر شرم دی، چې د غزې د ملاتړ ادعا کوي، خو د حزب التحریر د یوه غړي له لوري ویل شوي حقایق یې بسنتونه لړزوي او په هغو کاذبو تورونو یې محکمو ته لېږي، چې ما انزل الله خلاف دي!

**د حزب التحریر- ولايه تونس مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۵ هـ.ق کال، د رجب ۸مه**

**۲۰۲۴م کال، د جنوري ۲۱مه**

**د صدور ګڼه: ۲۰/ ۱۴۴۵**

**ژباړن: محمد حامد**